ابراهیم نعیمي ۱۷/۰۴/۲۰۱۵

طنز: د ملي یووالي حکومت ته بل خطرناکه ګواښ

د رسنیو د خبر له مخې د انګلیستان د موزیم مشرتابه پخواني ولسمشر ښاغلي حامد کرزي ته لیک رالیږلي او غوښتنه یې ورڅخه کړي چې د دوي مبارکه چینه د تاریخي یادګار په توګه ورته ډالۍ کړي تر څو د بریټش موزیم د تاریخي اثارو په څنګ کې خوندي شي.
داسې اوازې هم شته چې کیدلای شي د ښاغلي کرزي څخه د قره قلي غوښتنه هم وکړي تر څو د بریټش موزیم د تاریخي اثارو ځانګړي څانګه په بشپړه توګه ښکلي او د لیدونکو د خوښې تنده پرې ماته شي.
د خوبونو د تعبیرونو مشهور کارپوه د نامعلومه ځای څخه لاندې مهم خبر خپور کړی دی:« د ښاغلي حامد کرزي د چپنې او په قوي احتمال سره د قره قلي انتقال د بریټش مشهور موزیم ته، د قهرمان احمد شاه مسعود، د سولې د شهید پرفیسور برهان الدین رباني، مارشال فهیم او د دوي د یو شمیر نورو ملاتړو چې په مرستون کې یې امنیت ساتي، سخت په غوصه شوی دي. ځکه د دوي جهاد ارزښت، د جهاد تر نامه لاندې راټوله شوي شتمنۍ، د نړۍ د څارګرو ادارو سره پراخې اړیکې، په کابل کې د بنسټپالي د عقایدو خپرول، د جنسي تجاوز موضوع رواجول، د افغانستان د موزیم څخه د غیري اسلامي توکو چورول، د کابل د زړو ودانیو ورانول او په پای کې د نړۍ سوپر قدرت ته لاره هوارول چې افغانستان په خپله غیر کې ونیسي، کارنامو ته هیڅ پاملره ونه شوه. دوي بیړنۍ غونډه د برهان الدین رباني په مشري جوړه کړه او لاندې ټکې یې تصویب کړه:
- زموږ نړدي دوستانو، پخواني شوروي اتحاد، زړه ته رانږدي ملګری امریکا، د پاکستان او زموږ ورور ایران څارګرو ادارو ته باید په بیړه اطلاع ورکړل شي چې زموږ د حقوقو اعاده وکړي.
- زموږ د دغومره پراخه لاسته راوړونو په بدل کې یوازې په ترتیب سره د قهرمان ، د سولې د شهادت لقبونه او مارشال ته یوازې یو ښکلي قبر جوړول به د جهاد سره جفاء وي.
- موږ په یوه خوله خپلو ټولو ملاتړو ته چې په فاني نړۍ کې دی خبر ورکوو چې د خپلو اتلانو د حقوقو د اخیستلو له پاره لاس په کار شي او لاندې بیړنې اجرأت تر لاس لاندې ونیسي:
- د قهرمان د ارمانو د پوره کولو له پاره مهم پلونه او تونلونه والوزوي.
- د سولې د شهید د ارمان د پوره کولو له پاره دی د سولې راوستلو پر ضد ټینګ تدابیر ونیول شي.
- د مارشال د ارمان د پوره کولو له پاره دی د کابل ښار یو ځل بیا په کرونده بدل شي.
په درناوي. **د جهنم څخه ستاسو د مشرانو اواز**
رسنیو دا هم په ډاګه کړه چې ژر به د ښاغلي اشرف غني پټو هم بریټش موزیم ته انتقال کړي. د ښاغلي ولسمشر ملاتړو د خبر په اوریدو سره د خوښې جشن ونیوي. په جشن کې ویناوالو د بریټش د موزیم د مشر څخه وغوښتل چې زموږ د مشر لنګوټه هم باید د بریټش موزیم ته انتقال شي. نوي غوښتنه په چک چکو او نارو سره بدرګه شوه.
کله چې د موضوع څخه د اجرایي ریس د دفتر مسول خبر شوو، په بیړه یې جناب عبدالله ته د دغه ترینګلي پیښې خبر ورکړي. جناب عبدالله چې د بدخشان د شهیدانو د کورنیو سره د تسلیت په مراسمو بوخت وه، کله چې د دفتر مسول یې په غوږ کې د نوی خبر پې پسک وکړي، د بدخشان خلکو ته یې وویل چې په بخښنه سره، یوه لویه پیښه شوی ده چې زه باید په بیړه د حل لاره ورته پیدا کړم، د دغه لنډې جملې په ویلو سره یې نابېره غونډه پریښوده او په منډه یې د شمالي ټلوالي مهم مشران راټول او د پیښې په تړاو یې معلومات ورکړي. د غونډې لنډیز یې رسنیو ته داسې بیان کړي:
- ما او ولسمشر سیاسي تړون لاسلیک کړی دي، د نړۍ هیڅ هیواد حق نه لري چې پرته زما د ونډې څخه داسې یو اقدام وکړي.
- که څه هم جان کیري وویل چې اشرف غني اړ نه وه چې واک راسره وویشي خو زه په ډاګه وایم چې دا واک چا ماته د ډالۍ په توګه نه دي راکړي.
- ټولې نورې پریکړې به تر هغه وخت پورې وځنډیږي تر څو چې د پټو او لنګوټې ستونزې حل نه شي. باید په بریټش موزیم کې **زما د ارایش سامانونو ته ځای ورکړل شي.**
کله چې د ډاکټر عبدالله په مشري او د امرالله صالح په ملګرتوب د رسنیو په مخ کې ودریدل، د غونډې پریکړې د ملاتړو له خوا د الله اکبر په نارو بدرګه کیدې.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ملاتړو يې وويل چې ولس بايد وپوهيږي چې موږ وسله اوشتمني لرو، د ناست ولسمشر انځور مو د لويې خيمې په تالار کې ځيري او د الله اکبر په ناور ويلو سره مو تر پښو لاندې کړي. نو اشرف غني هم بايد پوه شي چې د نوموړی انځور به هم په هغه سرنوشت اخته کوو. يوځل بيا د الله اکبر ناري ووهل شوي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ